#کرونا_را_جدی_بگیریم
#کرونا_به_جدي_گڼو
افغانستان ویروس کرونا را شکست میدهد!

## د رهبرۍ پیغام

**خیرپالو هیوادوالو!**

کرونا ناروغي جدي وګڼئ، د روغتیایي مرکزونو په لارښوونو عمل او د افغاني سرې میاشتې ټولنې د رضاکارانو او ګرځنده روغتیایي ټیمونو سره، چې شپه او روځ د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د هیواد والو په خدمت کې دي، همکار پاته شئ؛ ترڅو د کرونا ناروغی له خپراوي څخه مخنیوی وشي.

شمیره:۳ | **خبر پاڼه** | د ۲۰۲۱ کال د مارچ میاشت




د افغاني سرې میاشتې ټولنه د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال غورځنګ د اوه ګونو اوصولو په رڼا کې د طبیعي او غیر طبیعي پیښو پیښیدلو ته د خیرپاله هیوادوالو، سوداګرو، درنو حاجیانو او مباتلو همکارو ملي ټولنو په مرسته په ټول هیواد کې بشرپاله خدمتونه وړاندې کوي.
ملي ټولنه د مرکزي روغتون، ګرځنده او ټاکلو کلینیکونو له لارې د هیواد په لرې پرتو نا امنه سیمو کې د ترټولو اړمنو وګړو لپاره روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي.
په پینځو مرستونونو کې سلګونه بې مشره کورنۍ تر ساتنې او روزنې لاندې لري او همدارنګه د نړیوال سره صلیب او فیدراسیون په ملاتړ یې د رضاکاری او غړیتوب سیستم ته لا پراختیا ورکړې ده.

## پیښو ته دځواب ورکوونې په برخه کې د ۲۰۲۱ کال د مارچ میاشتې برخمن شوي.

| ولایتونه | د کسانو شمیر | مرسته شوي توکي | مرستندویه بنسټونه |
|---|---|---|---|
| پروان | ۳۵ | غیر خوراکي توکي | سره میاشت |
| پنجشیر | ۴۳۱۳ | خوراکي توکي | دریف |
| سرپل | ۷۳۰ | غیر خوراکي توکي | سره میاشت |
| غور | ۴۴۳۷ | خوراکي توکي | صلیب سرخ چین |
| فاریاب | ۴۵۵۱ | خوراکي توکي | صلیب سرخ چین |
| کاپیسا | ۲۱۴۵ | خوراکي توکي | دریف |
| کندز | ۵۷۰ | خوراکي توکي | یونیسف |
| کنر | ۳۷۲ | غیر خوراکي توکي | یونیسف |
| لغمان | ۲۸۷ | غیر خوراکي توکي | سره میاشت |
| ننګرهار | ۱۸۹۰ | خوراکي توکي | یونیسف |
| نورستان | ۱۴۰۰ | خوراکي توکي | یونیسف |
| **ټولټال برخمن شوي:** | | **۲۰۷۳۰ تنه** | |

### د جسدونو د لیږد پروګرام:

د ۲۰۲۱ کال په مارچ میاشت کې په هیواد کې د بنکیلو اړخونو ۱۸۹ جسدونه خپلو کورنیو ته لیږدول شوي او سپارل شوي دي.

### د پلټنې او لارموندنې پروګرام:

د ۲۰۲۱ کال په مارچ میاشت کې (۹) پیغامونه تبادله شوي دي.

## مرستونونه

د افغاني سرې میاشتې ټولنه په پينځه ګونو مرستونونو (کابل، قندهار، هرات، بلخ او ننګرها) کې ۸۲۵ تنه مشمولين (کوندې، يتمان او رواني ناروغان) تر پالنې او روزنې لاندې لري، چې ۳۲۲ تنه يې رواني ناروغان دي.

## د روغتيايي خدمتونو وړاندې کول

د افغاني سرې مياشتې ټولنې روغتيايي خدمتونه ددې لپاره د اهميت وړ دي چې په کليو او بانډو کې د ليرې پرتو سيمو خلک تر خپل پوښښ لاندې راولي، له دې امله په ليرې پرتو سيمو کې د روغتيايي خدمتونو وړاندې کول، خلکو ته ستر حياتي ارزښت لري

| روغتيايي مرکزونه | OPD روغتيايي خدمتونه | سکريننګ/ چاڼ | شکمن | راجع شوي شکمن | روغتيايي زده کړې |
|---|---|---|---|---|---|
| بنسټيز کلينيکونه | ۷۰۱۳۹ | ۴۳۷۷ | ۱۸۴ | ۸۰ | ٦۲۳۷۲ |
| ګرځنده روغتيايي ټيمونه | ۴۳۸۱۹ | ۴۴۱۸ | ۳۱۸ | ۳٦ | ۴۲۷۲۴ |
| فرعي روغتيايي مرکزونه | ۲۴۳۵۱ | ۴۹۹٦ | ۹۹ | ۳۷ | ۱۱۲۲۱ |
| جامع روغتيايي کلينيک | ۴۵۳٦ | ۲۵۴ | ۱۲ | ۰ | ۲۰۷۱ |
| د کتلوي معافيت ګرځنده ټيمونه | ۳۲۷۷۲ | ۲۴٦۹۹ | ۴۳۸۹ | ۱۸٦ | ۱۷۹۷۷ |
| د کويد۱۹ مرکزي روغتون | ۱۴۹۴ | ۱۴۹۴ | ۱۴٦۸ | ۰ | ۰ |
| ټولټال | ۱۷۷۱۱۱ | ۴۰۲۳۸ | ۶۴۷۰ | ۳۳۹ | ۱۳۹۳۵۳ |







